**بسم الله الرحمن الرحيم**

# امانت څنګه ضایع کېږي؟

**(ژباړه)**

امام بخاري رحمه الله له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِذَا ضُيِّعَتْ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ قَالَ: كَيْفَ إِضَاعَتُهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: إِذَا أُسْنِدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ»**

*__ژباړه:__ کله چې امانت ضایع شي، نو قيامت ته په تمه شئ. ويې ويل: اې رسول الله صلی الله عليه وسلم! امانت څنګه ضایع کېږي؟ ويې فرمايل: هر کله چې چارې نااهلو ته وسپارل شي، نو قيامت ته په تمه شئ.*

کرماني ويلي: له «امر» څخه موخه په دين پورې ټولې تړلې چارې لکه امارت، خلافت، افتاء، قضاء او نور دي. همدارنګه کرماني وايي: د «اسند الامر الی غير اهله» لفظ يعنې دا چې الله سبحانه وتعالی د حکامو ټاکل د خپلو بندګانو پر غاړه يو امانت ايښی دی او پر هغوی يې فرض کړې چې خپل حکام محاسبه او نصيحت کړي. په همدغه اساس پر مسلمانانو لازمه ده چې خپلې چارې د دين اهل ته وسپاري، ځکه که چېرې د خپلو چارو مسووليت د دين اهل کسانو ته ونه وسپاري؛ په حقيقت کې يې هغه امانت ضايع کړی چې الله سبحانه وتعالی ورته سپارلی دی.

موږ په داسې يوه وخت کې ژوند کوو، چې د چارو مسووليت که څه هم يوه اساسي موضوع ده، خو بيا هم خاينو حکامو ته سپارل شوې ده، چې ورټيا يې نه لري او موږ هره ورځ ورسره مخ يو. دغه وګړي د حکومتولۍ اهل نه دي، ځکه د ښکېلاکګرو کفارو له لوري ټاکل شوي او پر مسلمانانو واکمن دي. دغه حکام د مسلمانانو شکنجه کول روا ګڼي او پر ښکاره کفر حکم کوي؛ په داسې حال کې چې دغه خاين حکام د يو ساده کار د ترسره کولو وس هم نه لري او داسې نااهله او ځان غوښتونکي دي چې امانت يې ضايع کړی او خيانت د امانت ځای نيولی دی. د دوی حاکميت هغه کسان منې چې ترې راضي وي، د هغوی په بديو کې شريک وي او داسې کاذب علماء، مفتيان او قاضيان شته چې د دوی پيروي کوي، له حاکميت څخه يې خوشحاله دي او هېڅ ناوړه عمل يې نه محکوموي او نه يې غندي.

دغو کسانو له الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو سره خیانت کړی او له هغه امانت سره یې هم په ښکاره توګه خیانت کړی، چې دوی ته سپارل شوی دی. دوی هغه کسان دي چې د الله سبحانه وتعالی پر ایتونو یې ملنډې وهلې، د الله تعالی د کلام مفهوم یې تحریف کړی دی او دوی هغه ګمراه کوونکي دي چې د علم او حکم امانت یې ضایع کړی دی.

امانت به هېڅکله ځمکې ته را ونه ګرځي، خو دا چې امر (حکومت) خپل اهل یعنې د دین اهل ته وسپارل شي؛ یعنې هغه کسانو ته چې د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره دعوت کوي؛ هغه خلافت چې خیانت له منځه وړي او امانت پر ځای کوي.

اې ربه! خلافت ژر راوله او موږ د مسلمانانو د لښکرو برخه وګرځوه، ترڅو د حاکمیت شاهدان یې شو!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**